چا چې په پورته ټولو شيانو ګواهي ورکړه نو) الله جل جلاله به) يې جنت ته داخل کړي که هر څومره عمل يې کړی وي

عبادة رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې هغه فرمايلي: "څوک چې شاهدي ورکړي چې له الله جل جلاله پرته بل معبود نشته، هغه يو دی او هېڅ شريک نلري، او دا چې محمد د هغه بنده او رسول دی او دا چې عيسی د الله بنده او د هغه رسول دی، او دا چې پر هغه يې د (کُن) په کلمې سره مريم عليها السلام ته د جبريل عليه السلام په واسطه زيری ورکړی، او دا چې د هغه له طرفه روح دی (چې جبريل عليه السلام د هغې په ګريوان کې پو کړی دی) ، او دا چې جنت حق دی او دوزخ حق دی، (چا چې په پورته ټولو شيانو ګواهي ورکړه نو) الله جل جلاله به يې جنت ته داخل کړي که هر څومره عمل يې کړی وي".

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي څوک چې د توحيد کلمه ووايي، په معنی يې پوه شي او په غوښتنه يې عمل وکړي. او پر دې ګواهي ورکړي چې محمد صلى الله عليه وسلم د الله بنده او رسول دی، او پر دې چې عيسی عليه السلام د الله جل جلاله بنده او رسول دی، او دا چې الله جل جلاله د "کُن" يعنې (شه) په کلمې سره پيدا کړی دی، او دا چې هغه له ارواحو څخه يو روح دی چې الله جل جلاله پيدا کړي دي، او دا چې د هغه مور ته يې له تور (تهمت) څخه براءت ورکړ چې يهودو تورنه کړې وه، او ايمان يې راوړ پر دې چې جنت حق دی، او اور حق دی، او د دواړو په شتون يې باور وکړ، او دا چې يو يې د الله جل جلاله نعمت او بل يې عذاب دی، او پر همدې عقيده مړ شو؛ نو تګ يې جنت ته دی که څه هم په پيرو کې نيمګړتيا او ګناهونه ولري.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3417